دعوت

۷



دعوت
ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن
کُزله فتحې نه وروسته
دافغانستان مسلمان اولس خپل جهاد د
که مؤقت حکومت د خپلی وعدی سره الحاد او دهریت پرضد پیل کړی ؤ !و
سم د قرآن او سنت نظام نافذ کړی، څو چه د الحاد او دهریت حکومت ختم
شوی نه وی، خپل جهاد به جاری ساتی.
مونږ په ئی حمایت وکړو.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ
اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا
ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ
كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا
وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿٢٣﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى
اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾

ترجمه : او څوك دى زيات ظالم له هغه نه چه جوړوى په الله باندى دروغ يا دروغجن كړى آيا تونه دهغه ، بى شكه فلاح نه شى موندى ظالمان . او په كومه ورځ چه جمع كړو دوئ ټولو لره ، بيا به ووايو هغو خلكو ته چاچه شرك كړى ؤ چه كومه دى شريكان ستا سو ، د كومو چه مو دعوه كوله . بيا به پاتى نه شى له دوى سره څه بهانه ، مگر دا چه و به وائى قسم دى په الله چه زمونږ رب دى ، نه وو مونږ شريكِ كوونكى . و گوره څنگه دورغ وائى په خپلو ځانونو او وركى شوى له دوئ نه هغه خبرى چه دوى به جوړ ولى .

ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن

دعوت

دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافكارو خپرونکی

PROPERTY OF ACKU 5524

دوهم کال ـ اوومه گڼه ـ د ۱۴۱۰ هـ ق کال د محرم او صفر المظفر میاشتی

هغه څه چه پدی گڼه کښی لولی

شماره	مضمون	مخ
۱ـ	د دعوت د مجلی د دوهم نشراتی	۲
۲ـ	قرآنی دعوت او هدایت	۵
۳ـ	بحثی پیرامون توحید	۸
٤ـ	په باجوړ کښی د شیخ جمیل الرحمن	۱۱
۵ـ	د ضمیر آواز	۲۸
٦ـ	د دعوت په تکو	۳۱
۷ـ	حقانیت مسلك اهلحدیث	۳۲
۸ـ	د ټولو تنظیمونو مشترکه اعلامیه	٤٦
۹ـ	دالدعوة روغتون له سر طبیب سره	٤۹
۱۰ـ		
۱۱ـ		
۱۲ـ		

مؤسس :

مولوی جمیل الرحمن

د امتیاز خاوند :

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

خپرونکی اداره :

ددعوت او ارشاد کمیټه ـ فرهنگی لوی مدیریت

مهتمم :

مولوی غلام الله (رحمتی)

پوست بکس

۱۲۰۲

پېښور ـ پاکستان

•••••••

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د دعوت د مجلې د دوهم نشراتي کال د پيل په مناسبت

څه وليکو او څاته ئې وليکو؟

د انسان کردار او عمل د دوه ډوله نيت او ارادې زيږنده دي . که دانسان نيت او اراده نيکه او احسنه وي ، نو رحماني وي ، خو که د شرارت او فساد نه ډك وي ، نو د خود خواهی او شيطاني احساس مولود دي .

قلم د نيکي او فضيلت نه ډکي کارنامي په خوښي او افتخار سره د تاريخ غيږي ته سپاري ، خو د شرارت او فساد نه د ډکو واقعاتو له ثبت او ليکلونه کر که کوی ، د قلم له زخمی سينی نه هغه وخت چيغی او فرياد را پورته کيږی چه د حقيقت له ليکلوليری پاتی شي او د شرارت او گمراهی په خدمت وگومارل شي .

په تيرويولسو کالو کی مونږ د حوادثو او واقعاتو د ثبت دوه ډوله طريقی په خپلو سترگو وليدی ، يو طرفته کمونيست اشرار او دهری گمراهان ، د شلم قرن ستمگران او د تاريخ يرغلگران وو چه خپل وحشت ئی په عدالت ـ جنگ ئی په سوله او انسان وژنه ئی د انسان په خدمت توجيه کاوه چه قلم هم د دغو رهزنانو په لاس د تاريخ د ليکلونه نفرت کاوه . مونږ وليدل چه روسانو په څومره بی شرمی او سفاکی خپل وحشيانه يرغل ته ، په افغانستان کی دامنيت د ټينگښت او د افغانستان د خلکو سره د مرستی او معاونت نوم ورکاوه ، څنگه ئی خپل ظلم او بربريت ، انسان دوستی او د ښه گاو نډيتوب د حقوقو ادأ کول گڼل ، څنگه ئی کليو او ښارونو ورانولو او تخريبولو ته ، د خپلی همدردی او د افغانستان د عمران او آبادی او زمونږ هجرت او آوارگی ته ئی زمونږ د فرار او فريب خوړلو

نو مونه ورکول .
روسی یرغلگرانو د توپونو او ټانکونو په وسیله زمونږ کورونه وران کړل ، زمونږ ورونه او خویندی ئی شهیدان کړل او په زرګونو تنه ئی په ترور او اختناق د ژوند له خوږ و محروم کړل ، بیائی په پوره بی حیائی سره وویل چه مونږ د افغانستان د خلکو دوستان او مددگاران یو . روسانو زمونږ وینی توی کړی ، افغانستان ئی قتل عام کړ او بیائی د نشراتی وسایلو او خبری رسانو له لاری خپل دغه وحشت او بیداد ته د دوستی نوم ورکاوه .

خو بل طرفته د حق پلویان ولاړ وو چه د روسی بیداد او وحشت نه ئی پرده او چتوله او د ظالمانو او یرغلگرانو انسانیت دښمنه اعمال ئی رسوا کول - ښاد دې وی هغه لیکوال چه د الله د لاری د شهیدانو د پاکی وینی رنگ ئی په خپلو حماسه آفرینو آثارو کی د نړی قضاوت ته وړاندی کړ - ښاد دې وی هغه لیکوال چه د قلم په ژبه ئی د افغان یتیم بچی سوی زگیروی د نړیوالو غوږونو ته ورسول . نیکمرغه دې وی هغه لیکوال چه د افغانستان د مسلمانانو دهجرت او غربت د کیږدیو حال ئی د قلم په نوکه ترسیم کړ - نیکمرغه دی وی هغه لیکوال چه د حق او باطل د جگړی رویداد او داستان ئی د خپلو آثارو په هنداره کی د نړیوال قضاوت ته وړاندی کړ او د مظلومو مجاهدینو - د بی اثری کونډو او یتیمانو او د شهیدانو د بی وسه میندو او پلرونو د زخمی زړونو آه او فریاد ئی د کاغذ په مخ راټول کړ او حقیقت ئی د حقیقت په څیره کی وړاندی کړ او نیکمرغه دی وی هغه لیکوال چه د نیکی د جگړی داستان ئی له بدی سره ، د رحمت ئی له وحشت سره او عدل ئی له ظلم سره ولیکه او اوس هم لگیا دی د جهاد او مجاهدینو د بریالیتوب او د کفارو او دهریانو د شکست او رسوائی رویداد لیکی .

د جهادی آثارو او نشراتو په لړ کښی یوهم د "دعوت"مجله ده چه د یو ځلانده ستوری په حیث یو کال وړاندی د جهادی مطبوعاتو په آسمان کی را ښکاره شوه او ترننه ئی د اسلام او جهاد د فضیلت او برتری او د کفر او شرك د اضمحلال او بطلان لپاره تر زیاتی اندازی پوری خپل رسالت سرته رسولی دی .

دا مجله د یو داسی جهادی تنظیم نشراتی ارگان دی چه د حزب الشیطان یعنی د کمونست او دهری پرچمی او خلقی باند او د کفر او شرك د نورو هوا خواهانو نه علاوه ، د دوستی په جامه کی هم دشمنان اومخالفین لری . هغوی د"جماعة الدعوة"د بدنامولو او په مسلمانانو کی د"جماعة"په باب د بد شهرت د

خپرولو لپاره دسیسی او توطیی جوړول خپل مسئولیت گڼلی او د زهرجنو تبلیغاتو او له تهمت نه د ډکو پروپاگندونو نه علاوه ډیر داسی شوی چه پخپله د"جماعة"په نوم ئی کتابونه او کوچنی رسالی لیکلی او قرآن او سنت لوری ته د دعوت د دی"جماعة"د بدنامولو مذمومی هلی ځلی ئی کړی دی . خو کله چه د دعوت مجله د"جماعت"د یوازینی نشراتی ارگان پحیث د خلکو په وړاندی پری وته او د هغی له غیرې د اسلام د عالی اهدافو او احکامو اصیلی مرغلری د خلکو په لمن کی راتوی شوی ، نو د معاندینو او مخالفینو د رسوائی تشت هم ورسره بیاله بامه را خلاص شوی ؤ او د تهمت او د سیسی جوړولو ټول آلات او ابزارئی له کاره غورزیدلی وو . او خلك تر زیاتی اندازی د"جماعة"د پاکی عقیدی او هدف څخه آگاه شوی وو . د داسی یو لیکوال رسالت چه ځان د قرآن او سنت پیرو گڼی ، د تاریخ په دی حساسه مرحله کی دادی چه د خپلو لیکنوله لاری د الله تعالی احکام او د بشریت د لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لارښونی د هغو په حقیقی رنگ کی خلکو ته وړاندی کړی : د یو مسلمان لیکوال رسالت دادی چه له هر څه نه وړاندی د عامه اذهانو له کړوندی نه د شرك او بدعت نوغی و باسی او د اسلام د سپیڅلو احکامو تخم پکی و شنیدی .

په دی حساسه مرحله کی چه روسی لښکری له افغانستان نه په رسوائی او شرمندگی و تلی ، د یو مسلمان مجاهد لیکوال وظیفه داده چه په ستمگرانو او ظالمانو باندی د غلبی لپاره د سنگرونو د اتحاد او اتفاق لپاره خپلی ټولی هلی ځلی متمرکزی کړی او د جهاد سنگرداران داسی یو اتحاد ته راوبولی چه مستحکم او نه ماتیدونکی وی او کمونیست دشمن دا جرأت و

نه شی کولی چه بیا زمونږ د مقدس جهاد په لیکو کی خپل مذموم عزایم سرته ورسوی .

که مسلمان لیکوال خپل دغه رسالت او مسئولیت په صادقانه ډول سرته ورسوی ، زمونږ یقین دی چه دهغه د قلم مرغلری به هیڅکله هم د هستی له صفحی نابودی نشی او هغه رنگ چه دده د قلم د نوکی په وسیله دیو مبارز او مجاهد ملت له وینو نه ئی سرچینه اخستی ، د زمانی د باد څپی به ئی زایلی او نابودی نه کړی .

قرآني دعوت او هدايت

يوسف عليه السلام د خوبونو د تعبير صلاحيت او اختيار په خپل ځان پوري منحصر ونه ګاڼه بلکه هغه ئي د الله تعالى (ج) له طرفه د فضل او رحمت نتيجه وګڼله او وروسته له دي چه زندانيانو ته ئي د ډوډى د خوراك نه وړاندى وخت د خوبونو د تعبير له پاره مقرر کړ په حکيمانه او دانشمندانه ډول ئي د خبري مخ هغه طرف ته واړاوه چه ده د خپل ژوند هدف ګرځولى وو - وئي فرمايل :

ذلکما ممّا علمني ربّى

يعني دا هغه خبرى دي چه زما رب ما ته رازده کړى دي او په داډ ډول ئي د خبري سر راوسپړود .

تاسو فکر وکړئ چه هغه په څومره حکيمانه ډول د دعوت او تبليغ فريضه سر ته ورسوله . که دغه خبره بي له کومي مقدمي پيل شوى وى ، نو هر ګز به ئي زنداني ملګرى د هغي اوريدو ته قدرى هم تيار شوى نه وى . ځکه هغوى د وهمى خوبونو څخه دومره ويريدلى وؤ چه د خوبونو د تعبير څخه غير ئي په هيڅ خبره زړه نه ټکوريده . د تشويش او اضطراب په حالت کښي هغوئ کله دا حوصله لرله چه اوږده بحثونه دى واوري ، خو کله چه حضرت يوسف عليه الصلوة والسّلام وويل :

د خوبونو په تعبير کښي زما د

علم او فضل ، ذهانت او ذکاوت څه ونه نه شته ، بلکه دا ټول د الله جل جلاله فضل او مرحمت دی چه ماته ئي د خوبونو د تعبير صلاحيت او استعداد را په برخه کړيدی . په دي شان هغه د الله جل جلاله لوری ته د دعوت غوټه خلاصه کړه اوپداسی ډول ئی دعوت الی الله پيل کړ چه د مخاطبينو د ذهن او طبعی له پاره د منلو وړؤ او هيچا تري انکار نه شو کولای .

د دعوت په دي دانشمندانه روش باندی له دی جهته هم غور وکړی چۀ که يوسف عليه السلام خپل ملګری ـ مخاطب کړی وی او ورته ئي فرمائلی وی چه زما درنو ملګرو ! لږ د صبر او استقامت نه کار واخلئ زه به تاسو ته د خوبونو تعبير بيان کړم ، خو واورئ چه په دي دنيا کښي د خوبونونه وړاندی د زيات فکر او غور خبری هم شته . نو ښکاره ده چه د زندان ملګري به ئي په اطمنان سره خبري نه وای اوريدلی ، په تيره بيا داسی خبري چه دوئ ورسره له سره عادي نه ؤ او نه خودوی ددي خبرو د اوريدو له پاره راغلی ؤ ، نو ځکه حضرت يوسف عليه الصلوة والسّلام بی له دي چه د کلام ـ سلسله پريکړی او يا موضوع بدله کړی ، د کلام سلسله ئي جاري وساتله او بی له کومي سکتئ ئي وويل :

ذلکما مما علمنی ربّی

هغه محيط او شرايط چه يوسف عليه السلام په کښي د « ذلکمامما علمنی ربّی » غږ پورته کاوه او په څومره حکيمانه اسلوب او طريقه ئي د زندان ـ ملګری په دي قانع کول چه د خوبونو د تعبير علم راته د الله تعالی جل جلاله له خوا راکړی شوی ، دومره جدا محيط او سخت شرايط وو چه د کفر او شرك خاپسي د هر چا په ذهن منګولی ښخې کړی وې او د الله تعالی (ج) د توحيد او يکتا پرستی غږ ته چا لبيك نه وايه . بلکه په دغسي تاريکو عامه اذهانو کښي د توحيد د عقيدي ځای کول يو خاص حکيمانه او دانشمندانه روش ته ضرورت درلو د چه بايد په آسانه طريقه خلك پهٔ دی قانع کړي چه د کائناتو خالق يوازي الله تعالی جلا جلاله دی ، بتان او اصنام د چا په هيځ درد نه شي دوا کيدی ـ

دا شرایط دومره سخت ؤ چه مثال ئي يوازي د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت په زمانه کښي پیدا کولی شو او نور نو د دین د دعوت او داعیانو په اوږد تاریخ کښی د دومره ناوړه شرایطو مثال نه شي وړاندی کیدی او نه به د دعوت دومره خوږه او لطیفه پیرایه او اسلوب په نظر راشي ، څومره چه یوسف علیه السّلام د دین د دعوة په لاره کښي په کار اچولی ده .

دا مبارك ايت له :

« لا یا تیکما طعام ترزقانه»

څخه تر : « ذلکما مما علمنی ربی » پوري ولولی او وګوری چه د توحید پوري د دعوت لار د « رب » له - کلمي څخه په څومره آسانه او قابل قبول ډول خلاصه شوی ده او په څومره دانشمندانه اسلوب - سره د خبري مسیر د دین د دعوة لوري ته را اړول شوی دی . په حقیقت کښي یوسف علیه السلام خپلو ملګرو ته وویل : چه دا زما کمال نه دی چه خلکو ته د خوبونو تعبیر بیان کړم . زه یو کمزوری او ناتوان انسان یم ، زه خلکو زندان ته وغورځولم ، کلونه کلونه راباندی تیر شول ، د دنیا د آزاد ژوند نه ئي محروم کړم ، خو په ما کښي دا توان نه ؤ چه ځانته په خپله نجاث ورکړم او زما په شان کمزوری انسان چه د نورو د ظلم او - استبداد په ژرنده دل کیږي او ځان تري نه شي خلاصولی ، څنګه کولی شي په خپل سر دومره عالي مقام ته ورسیږي چه بیا د علم او بصیرت خبري کوي او د مغلقو او پیچیده خوبونو د راز پټی غوټي راسپړي . بلکه دا په مابانده یوازي او یوازي د کائناتو د خالق الله تعالی جل جلا له خاص کرم او مهربانی ده چه دغه علم ئي ماته رازده کړی دی .

بحثی پیرامون توحید

فوقیتُ الله تعالیٰ

آیاتیکه در آن فوقیت الله تعالی (جل جلاله) صراحتاً ذکر شده است :

۱ ـ وهو القاهر فوق عباده وهوالحکیم الخبیر. (انعام ـ ۱۷)

ترجمه : و او (تعالی) غالب است بالای بندگان خود و او دارای حکمت و آگاه و خبیر است .

۲ ـ وهو القاهر فوق عباده ویرسل علیکم حفظة . (انعام ـ ۴۸)

ترجمه : و او تعالی است غالب بالای بندگان خود و می فرستد برشما و بالای شان ملائکه نگهبان . (النحل ـ ۴۶)

۳ ـ یخافون ربهم من فوقهم ویفعلون مایؤمرون .

ترجمه : از پروردگار شان در هراس اند و امریکه از بالا برای شان صادر می شود تعمیل شان می کنند .

درین آیات به صراحت تذکر رفته که الله تعالی (جل جلاله) از مخلوقش بالا و باین است . و در تفسیر قرطبی جلد ده صفحه ۱۱۳ میخوانیم که :

یخافون ربهم من فوقهم ای عقاب ربهم و عذابه لان العذاب المهلك انما ینزل من السماء . اهـ .

صرح البیهقی فی کتاب الا سماء والصفات صفحه ۲۹۹ عن الفرأ فی قوله عزوجل وهو القاهر فوق عباده وقال کل شئ قهر شیأ فهو مستعل علیه اهـ .

ترجمه : از پروردگار شان می هراسند از بالا . یعنی از عقاب و عذاب الله تعالی (جل جلاله) در هراس اند ، زیرا عذاب مهلك از

آسمان فرود می آید . بیهقی رحمة الله علیه در اسماء والصفات تصریح نموده که فراء در تفسیر «وهو القاهر فوق عباده» می گوید : آنچه برکسی قاهر باشد برآن عالی نیز میباشد .

آیاتیکه تفسیر آیات فوق را ارایه میکند :

۱ ـ ولقد خلقنا فوقکم سبع طرایق وماکنا عن الخلق غافلین : (المومنون ۱۷)

ترجمه : وما بالای تان هفت آسمان آفریده ایم وما از بندگان خویش غافل و بی خبرنمیباشیم .

۲ ـ تکاد السموت یتفطرن من فوقهنّ . (الشوری ۴)

ترجمه : نزدیك است که آسمانها بشگافند از جانب بالای خود (یعنی از هیبت الهی) .

افلم ینظروا الی السماء فوقهم کیف بنیناها و زینها ومالها من فروج . (ق ـ ٦)

ترجمه : آیا به فراز شان به هفت آسمان نمی نگرند چگونه آن را ساختیم و زینت بخشیدیم و در آن شگافی وجود ندارد .

۴ ـ بنینا فوقکم سبعًا شداد (النباء ۱۲)

ترجمه : ومابر فرازتان هفت (آسمان) مستحکم بنأ کردیم .

و عرش خداوند متعال برفراز این آسمانهاست کما مرو وکماسیأتی انشاء الله تعالی .

خداوند برفراز آسمانهاست .

الله تعالی درقرآن عظیم الشان میفرماید :

«قد نری تقلب وجهك فی السماء فلنولینك قبلة ترضاها» (بقره ـ ۱۴۳)

ترجمه : «به تحقیق می بینم گشتن روی ترا به جانب آسمان ، پس البته متوجه گردانیم ترابه آن قبله که خوشنود می شوی به وی» .

و تفسیر ابن جریر در صفحه ۱۱ جله دوم می نویسد :

وانما قیل له ذلك صلی الله علیه وسلم فیما بلغنا انه کان من قبل تحویل قبلة من بیت المقدس الی الکعبة یرفع بصره الی السماء ینظر من الله جل ثنائه امره التحویل نحوالکعبة اهـ

ثم اسند ذلك عن قتاده والربیع واسدی وهکذا فی القرطبی ج ۲ ص ۱۲۵ و ابن کثیر ج ۱ ـ ص ۱۹۲ والخازن مع البغوی ج ۱ ص ۱۰۳ والنسفی ج ۱ ص ۸۰ والشوکانی ج ۱ ص ۱۳۲ والقاسمی ج ۲ ص ۳۰۰ وغیر هامن تفاسیر .

ترجمه : طوریکه به ما ابلاغ گردیده ، خطاب الله تعالی (جل جلاله) به پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم ازین جهت بود که قبل از تحویل قبله از بیت المقدس به طرف کعبه مکرمه ، آنحضرت صلی الله علیه وسلم بصوب آسمان می نگریست و انتظار حکم تحویل قبله

را از طرف الله جل شانه می برد . پس از قتاده ، ربیع واسدی این مطلب باسند بیان شده و در قرطبی ج ۲ ص ۱۴۵ ابن کثیر جلد اول صفحه ۱۹۲ ، خازن مع البغوی جلد اول صفحه ۱۰۳ الشوکانی جلد اول صفحه ۱۳۲ والقاسمی جلد دوم صفحه ۳۰۰ وسایر تفاسیر نیز این چنین تفسیر شده است و مطلب چنین است که پیامبر صلی الله علیه وسلم بانگاه های پر امید به حضور الله تعالی بصوب آسمان می نگریست چنانچه نسفی می گوید :

تردد و جهك و تصرف نظرك فی جهت السماء وكان رسول الله صلی الله علیه وسلم يتوقع من ربه ان يحوله موافقة لابراهيم ومخالفة لليهود .

ترجمه : پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم بارها نظرش را به آسمان می دوخت و رسول الله صلی الله علیه وسلم توقع داشت که رب تعالی حکم تحویل قبله را صادر خواهد فرمود بخاطر توافق وهماهنگی با ابراهیم علیه السلام و مخالفت بایهود .

و قاسمی میگوید :

وهذا الطف مماقیل ان تقلب وجهه كناية عن الدعاء اهـ

ترجمه : اخذ این معنی و استبناط بیشتر از پیش اصح است که گفته شده که نگرش پیامبر صلی الله علیه وسلم بصوب آسمان کنایه ئی از دعابود .

دافغانستان مسلمان اولس خپل جهاد د الحاد او دهریت پرضد پیل کړی ؤ او څو چه د الحاد او دهریت حکومت ختم شوی نه وی، خپل جهاد به جاری ساتی .

(مولوی جمیل الرحمن)

په باجوړکښې مجاهدینوته د شیخ جمیل الرحمن خطاب

ان الحمدلله نحمده و نستعینه و نستغفره و نومن به و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سیئات اعمالنا من یهده الله فلامضل له و من یضلل فلاهادی له و نشهدان لا اله الا الله و نشهدان محمداً عبده و رسوله ارسل بالحق بشیراً و نذیرا و بلغ الرسالة وادی الامانة و نصح الامه و صلی الله علیه وآله و صحبه و من اهتدی بهدیه الی یوم الدین .

اما بعد : فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم .

محترمو مشرانو ـ گرانو مجاهدینو ـ طلبه ورونړو ! اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ـ ترټولو د مخه د الله تعالی شکر ادأ کوو چه د باجوړ په سیمه کی ئی د جماعة الدعوة د حفظ القرآن د مدرسی یو شمیر زده کونکی طالبان په دی بریالی کړل چه د الله تعالی حق کلام چه د انسان د دنیوی او اخروی نیکمرغی او سعادت راز په کی پروت دی او انسان کولی شی چه دهغه په ارشاداتو باندی په پوهیدو او عمل کولو باندی د جهل او گمراهی د ظلمت او تاریکی پردی څیری کړی او دخپل سعادت او نیکمرغی دابدی ژوند جهت و ټاکی ، په خپله سینه کی ئی حفظ کړی او نن د علماؤ ـ مجاهدینو او مهاجرینو په دی ستره غونډه کی د قرآن مبارك د قراؤ په حیث د اسنادو او شهادت ناموځښتنان شی . زما توصیه دغو ورونړوته داده چه یوازی د قرآن په حفظ او زبانی یادښت باندی اکتفاءو نه کړی بلکه هغه صفات او مشخصات په ځان کی پیدا کړی چه الله تعالی ئی د قرآن لوستونکو او ذاکرینو په هکله ارشاد فرمایئی او دغه صفات ئی د واقعی مومنانو له پاره مشخص کړی

دی : الله تعالی فرمائی :

انما المومنون الذین اذا ذکر الله و جلت قلوبهم و اذا تلیت علیهم ایاته زادتهم ایمانا و علی ربهم یتوکلون . (الانفال_۲)

ترجمه : ریښتینی مؤمنان هغه دی چه د هغو زړونه د الله د یاد په اوریدلو لړزیږی او کله چه د هغو په وړاندی د الله آیتونه لوستل کیږی ، نو دهغو ایمان زیاتیږی او هغوی په خپل رب باندی اعتماد لری .

د مسلمانانو او مومنانو په زړونو کی د ایمان جذبه د الله تعالی او دهغه د برحق پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو په اوریدلو او په هغو باندی په عمل کولو سره ژوندی کیږی او د تقویت مراحل وهی . الله تعالی دغه کار د واقعی مومنانو د صفت په حیث بیان کړی ارشاد فرمائی :

واذاما انزلت سورة فمنهم من یقول ایکم زادته هذه ایماناً فاماالذین آمنوا فزادتهم ایمانا و هم یستبشرون . واما الذین في قلوبهم مرض فزادتهم رجساً الی رجسهم وماتوا وهم کافرون . (توبه ـ ۱۲۳)

ترجمه : کله چه کوم نوی سورت نازلیږی ، نو له هغو څخه ځینی خلك (د ملنهو په توگه له مسلمانانونه) پوښتنه کوی چه ووائی له تاسونه د چا په ایمان کښی پده سره زیاتوالی راغی ؟ (ددی ځواب دادی) کومو کسانو چه ایمان راوړی دی د هغو په ایمان کښی خو په واقع کښی (دی هرنازلیدونکی سورت) زیاتوالی راوستی دی او هغوی پری خوشحاله دی . البته د کومو خلکو په زړونو کښی چه د منافقت ناروغی لگیدلی وه ، د هغو په پخوانی پلیدی باندی (هرنوی سورت) یوه بله پلیدی زیاته کړه او هغوی د مرگ ترشیبو پوری په همدی کفر کښی اخته پاتی شول .

د الهی ارشاداتو او نبوی لارښوونو داوریدلو ضرورت نن سبا زمونږ په جهادی سنگرونو کی ډیر زیات احساسیږی . زمونږ مجاهدین باید د دښمن سره د مقابلی په ځنگ کی له علماؤ څخه د قرآنی ارشاداتو او نبوی لارښوونو د زده کړی او اوریدو تصمیم هم ونیسی ، ځکه چه دغه کار د اسلامی مقدس جهاد یوه لازمی ضمیمه ده او هغه غذاده چه د جهاد په تو د سنگر کی پری د مجاهد ایمانی جذبه او جهادی احساس تغذیه او تقویه کیږی او بیانو د جگړی په دوران کی ددښمن ټول ساز و سامان ، په شمیر زیاتی لښکری ، توپونه او د ټانکونو قطارونه او د هغو د پاسه د جنگی الوتکو فضائی چتر و نه د ماشی هومره ارزښت هم نه لری .

رسومو او رواجونو په اساس ولاړدی د خلکو له اذهانو و باسی او د شرك ټول آثار او علایم چه نن سبائی د خلکو عقیدوی بنسټ کمزوری کړی دی ، له منځه یوسی . بل طرفته جماعة الدعوة هغو وروڼو ته چه دژوند عقیدوی آئینه خوئی بالکل صافه او شفافه ده ، مگر د عمل په شیشه ئی تور داغو نه پراته دی ، توصیه کوی چه باید خپل عمل او عقیده سره ملگری کړی ، یوازی د خولی په ادعاگانو اکتفاونه کړی بلکه خپله عقیده د خپل عمل په ډگر کی څرگنده کړی .

دوه مهم او اساسی اصول :

جماعة الدعوة په دووعمده او اساسی اصولو و لاړدی لومړی . اصل د قرآن او سنت لوری ته دخلکو دعوت او د وهم اصل ، د مقدس جهاد ادامه او د دهریت او شرك او کفر په خلاف مقدسه جگړه ده .

دلومړی اصل د په نظر کی نیولو سره جماعة الدعوة د مهاجرینو په کمپونو کی یو شمیر دینی مدرسی تأسیس کړی چه د الله کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم آحادیث پکی تدریس کیږی ، د دغو مدارسو تأسیس تردی وخته دیره ښه نتیجه ورکړی او زیات شمیر داعیان ئی جامعی ته وړاندی کړیدی چه کولی شی د قرآنی آیاتونو ، نبوی آحادیثو او د سلف صالحینو د اقوالو په رڼاکی د خلکو د اذهانو در وښانه کولو او د قرآن او سنت لوری ته د دعوت ستر خدمت په صداقت او ایمانداری سرته ورسوی .

دویم اصل د مقدس جهاد تداوم او پرمختتگ دی چه په دی ډگر کی هم انشاء الله جماعة الدعوة زیات بریالیتوبو نه لاسته راوړی دی .

محترمو وروڼو . جهاد د ایمان عملی شکل دی . دا چه وایو : مونږ مؤمنان یو ، معنی ئی همداده چه مونږ مجاهدین یو . که مونږ مجاهدین نه یو او یاله جهاد نه سر غړوو ، بیانو په مونږ باندی د مؤمن اطلاق نشی کیدی . ځکه چه په حدیث مبارك کی راغلی دی : پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل څوك چه په داسی حال کی مړشی چه نه ئی جهاد کړی وی او نه ورسره د جهاد اراده وی ، نو خوښه ئی خپله چه یهودی مړ کیږی او که نصرانی . نو په دی حساب جهاد د ایمان نښه ده ، د اسلام مظهر دی ، د الله تعالی د رضا او د جنت د حصول وسیله ده . خو په دی ځای کی باید له دی اشتباه سره مخامخ نشو چه گوندی یوازی هغه څوك مجاهد دی چه ټوپك ته لاس کړی او ډزی وکړی . مجاهد د ځانگړو خصوصیاتو

لرونکی دی . د بشریت د لارښود محمد صلی الله علیه وسلم په ارشاداتو کی د مجاهد صفات او شرایط په ډیرو روښانو ټکو کی ښکاری . په آحادیثو کی څرگنده شوی ده چه یو سړی د غنیمت د مال د پاره جهاد کوی یو سړی د وطن په نوم جهاد کوی ، یو سړی د قومیت په خاطر جهاد کوی او بل بیاد شجاعت او دلاوری د القابو د گټلو د پاره جهاد کوی ، مگر دا یوهم اسلامی جهاد نه دی ، بلکه جهاد هغه دی چه یوازی د الله رضاله پاره وشی او دالله تعالی د کلمی د اعلاء لپاره و شی .

که څوك بیله کوم شرعی عذر نه له جهاد نه ځان گوشه کړی ، مومن نه دی او شرعی معذوران په قرآن عظیم الشان کی په دی ډول ښودل شویدی :

لیس علی الاعمی حرج ولاعلی الاعرج حرج ولاعلی المریض حرج

(الفتح / ١٧)

ترجمه : نشته پرړانده باندی هیڅ گناه او تکلیف او نه په گوډ باندی هیڅ گناه او تکلیف او نه په ناروغ باندی هیڅ گناه او تکلیف (ځکه چه جهاد پردغو معذورانو فرض ندی)

جهاد پوله او سرحد نه پیژنی :

جهاد د الله درضا لپاره پیل کیږی ، د دین د ساتنی او دفاع او دالله د کلمی د لوړتیا او د مؤمنانو د سر او مال د ساتنی په خاطر او د فساد او فتنی دله منځه وړلو د پاره پیل کیږی ، نو دا دلیل نشی پیدا کیدی چه جهاد په یوه سیمه پوری منحصر کړو یعنی د کونړ د ولایت خلك و وائی چه که په کونړ کی وی جهاد به وکړو ، خو که ننگرهار ته شو ، نو بیازموږ له غاړی ساقط دی او د ننگرهار اوسیدونکی و وائی چه که په ننگرهار کی یؤ ، په مونږ فرض دی ، خو که د دښمن قواوی له ننگرهاره ووتی ، جهاد زمونږ له غاړی ساقط دی . مؤمن مجاهد په دی مکلف دی چه ترهغی مقدس جهاد ته دوام ورکړی چه د زمکی په مخ د شرك او کفر ، فساد او فتنی آثار ورك شی او اطاعت او تابعداری د الله تعالی له پاره خاص شی .

«و قاتلو اهم حتی لاتکون فتنة»

یعنی جهاد کوئ تر څو چه پر مخ دځمکی فتنه (تسلط د کفر) پاتی نشی

اوس چه د کونړ ولایت آزاد شویدی او تاسو په خپله کر کرونده بوخت شئ او جهاد ته شاکړئ ، په حقیقت کی له خپل ځان سره جفا کوئ . ځکه چه د جهاد سقوط پخپله ستاسو زیان او د دښمن په گټه تمامیږی ،

د جماعة عقیده او هدف :

عزتمندو ورونړو : دا جهادی کنفرانس د جماعة الدعوة الی القرآن والسنه له خوا جوړشوی دی او مونږ غواړو چه د دی پرتمینی غونډی په ترڅ کښی د جهاد په نویو لارو چارو او په دی حساسه مرحله کی د مؤمنو مجاهدینو په نویو مسئولیتونو او فرایضو باندی رڼاواچوو .

زما ورونړو . جماعة الدعوة الی القرآن والسنة هغه تنظیم دی چه تاسو ئی په سلفیانو یادوی او کله چه خفه یاستی بیا ورته و هابیان وایئ .

یو او بل ړول نومونه ایښودل او القاب برابر ول ستاسو په رضائیت او نارضائیت یعنی خوښی او ناخوښی پوری منحصره ده ، کله چه خوشحاله ئی نو د سلفیانو جماعت ورته وائی ، خو چه لږ خفه شئ ، نو بیائی دوهابیانو په نوم یادوئ ، خوزه به تاسو ته د دی جماعت عقیده په لنډو ټکو کی عرض کړم . دهر تنظیم ، حزب او پارټۍ منشور په خپله د هغه د نوم څخه څرگندیږی . د حزب اسلامی افغانستان معنی داده چه دا یو اسلامی حزب دی اوهغه کسان به ئی غړیتوب لری چه مسلمان وی . د جمعیت اسلامی معنی داده چه دا یو اسلامی ټولگی دی او څوك چه په دغه ټولگی کی داخلیږی هغه به مسلمانان وی . د محاذ ملی افغانستان معنی داده چه داد ملت او وطنیت په نامه جوړشوی تنظیم دی او څوك چه ددی تنظیم غړیتوب ولری ، هغه به افغانان وی . خو جماعة الدعوة د هغو ټولو تنظیمو په نسبت چه ځانته اسلامی تنظیمونه وائی د یوی خاصی کړنلاری او خاص منهج لرونکی دی او فرق ئی هم د نورو تنظیمونو سره ښکاره او واضح دی .

تاسو دننۍ اسلامی ټولنی په باب پوره معلومات لری او درته معلومه ده چه اسلامی ټولنه اوس د بیلا بیلو مفکورو نظر یاتو ، عقایدو په مزو ترل شوی ده . په پاکستان کی اسلامی ډلی شته یوی ډلی ته بریلویان وائی چه نظریه او عقیده ئی په زیارتونو او قبورو باندی د عرس او جشنونو جوړول او هغوی ته چغی وهل او له هغوی نه استمداد غوښتل دی لکه یاغوث الاعظم مدد - یاپیربابا رارسیږه او .... خو ددی سره سره بیاهم دا کلمه وائی چه لا اله الا الله محمد رسول الله .

بله ډله مسلمانان د دیو بندی نظریاتو او عقایدو لرونکی دی چه ځانته د حنفی مذهب پیروان او مقلدین وائی . په دغی ډلی کی داسی خلك هم شته چه مذهب په دین

باندی مقدم گڼی او امام ته د پیغمبر په نسبت زیات ارزښت ورکوی . دوی د پیغمبر ښکاره ارشادات په نظر کی نه نیسی خود امام مجهول قول په پټو سترگو قبلوی .

دغه ټولی ډلی په اهل سنت کی رامنځته شوی چه په مقابل کی ئی شیعه گان دی .

خو زمونږ عقیده داده چه بندگی او پرستش یوازی د الله تعالی کوو او په هغه طریقه او روش به ئی عبادت کوو چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی مونږ ته لارښوونه کړی ده ، مونږ دالله تعالی له ذات نه بغیر له هیچاڅخه د مافوق الاسباب استمداد قایل نه یو . دغه ده د جماعة الدعوة لاره او منهج چه باید ټول هغه کسان ورته په زړونو ـ وینو او رگونو کی ځای ورکړی چه ددی جماعت د غړیتوب سعادت ورته حاصل دی .

شك نشته چه کله کله د خلکو په عقایدو کی سهوی او اشتباهات رامنځته کیږی ، کله کله انسان د الهی آزمایشونو او یا خوهم د اجتماعی ناخوالیو په وجه خپله اصلی لار پریږ دی ، د الله تعالی د نصرت په باب شك او تردد پیدا کړی او د عجلت او بی صبری په عالم کی د جومات په ځای هدیری ته منډه کړی ۷ نږدی او اقرب خدای هیرکړی او په کیلومترو ـ کیلومترو لیری د یو زیارت دلمنی دټینگولو لپاره په کړاوونواو زحمتونو پښی سپاری کړی او که د ، وهم او تردد په دغه میره کی ورته هر څو مره چیفی وهل کیږی چه الله تعالی وائی«فانی قریب ـ فانی قریب» خو د ده ناکرار زړه او اماره نفس چه د رسمونو او رواجونو په لوگو لوغړن شوی او د ایمان او عقیدی رڼاپکی کمزوری شوی ، خپل غوږونه کاڼه نیسی او د «بابا» او «غوث» درگاه ته ځان رسوی . هلته د زیارت او قبر طوافونه کوی ، شکرانی ورکوی ، حلالی کوی ، د قبرخاوره او کاڼی په ځان پوری مښی ، سرونه ورته ټیټوی ، د مجاورینو او سجاده نشینانو په پښوکی رغړی ، ځان ورته خوار او ذلیل ښکاره کوی او په دی ډول خپله ورکه په هغه ځای کی لټوی چه هیڅکله به ئی بیانه مومی ، چه دغه کار د اسلامی شریعت له مخی د انسان بندگی گڼل کیږی او جماعة الدعوة ورته د کرکی او نفرت په سترگه گوری . داټول هغه اشتباهات او خطاگانی دی چه نن سبا دامة مسلمه د زیات شمیر افرادونه صادریږی .

د جماعة الدعوة د تشکیل یو هدف دادی چه د دعوت او تبلیغ له لاری دغه ډول وهمی عقاید او نظریات چه یوازی ، د لادینه

تاسو باید د کونړ په آزادی سره د الله شکریه اداء کړئ او د خپل پروردگار سره خپل تعهد نوی او تجدید کړئ او داژمنه وکړئ چه که دا جهاد هر څومره مخ په وړاندی روان ؤ ، مونږ به ورسره څو ، څومره چه دښمن په شازغلی ، هغو مره به مونږ مخ په وړاندی ځو . زمونږ جهاد به پوله او سرحد نه منی .

جهاد ادامه لری :

ځینی خلك وائی چه زمونږ کلی کور او منطقه آزاده شوه ، نو د جهاد څه ضرورت دی او ځینی لا داهم وائی چه روسان خوله افغانستان نه وتلی ، نو اوس د جهاد په نوم د جنګ جګړی جواز له کوم ځای را پیدا کیږی .

محترمو ورونو . زمونږ جهاد په افغانستان کی د الله د قانون د حاکمیت لپاره پیل شویدی . هر څوك په دی حقیقت خبردی چه مونږ دغه عالی هدف ته د رسیدو لپاره په لکونو شاه زلمی قربان کړل . لس یو-ولس کاله مود جهاد په سنګرونو کی تیر کړل او په وطن کی مو داسی سیمه پاتی نه شوه چه روسی بمونه وربانـدی نه وی وریدلی او بل خوا ته چه ګورو لاتر اوسه هم د روس کښینول شوی رژیم د کابل په تخت ناست او د کفر او شرك د فتنی د اور غرغنډی لا اوچتی دی ، روسی لښکرو د افغانستان د مجاهدینو په وړاندی مقاومت و-نه شو کولی وتښتیدل ، خو آثار او بقایا ئی لاتر اوسه هم پاتی دی ، نو کوم داسی دلیل پیداکیږی چه مجاهدین دی وسله کیږدی او جهاد دې ترك کړی .

بل طرفته داهم یو حقیقت دی چه جهاد د روس د ګوډاګی رژیم په خلاف پیل شویدی او تر هغه چه د روس ګوډاګی رژیم له پښونه وی غورزیدلی او په هیواد کی د قرآن او سنت په اساس اسلامی نظام نوی ټینګ شوی ، جهاد به په خپل ټول شدت سره روان وی . ځینی لیډران او دهغوی پیروان چه دافغانستان مسألی ته د قومیت او نیشنلیزم بڼه ورکول غواړی او نسب او قومیت ته په اسلام ترجیح ورکوی ، وائی که دافغانستان اوسیدونکی کمونستی مفکوره ولری او که یاپه بله هره فاسده مفکوره چه وی بیاهم افغان دی او جهاد ورسره ناجایزدی .

خو د اسلام حکم دادی چه که دیو سړی ، ورور – پلار ، زوی او یا بل هر قریب او رشته دار او وطندار چه وی ، خو چه کله ئی د کفر لاره اختیار کړه ، بیانو د دوی او د دغی کورنی ترمنځ د وروری ، خپلوی ،

وطنداری او قومیت ټولی رشتی غوڅیږی او مسلمانانو ته پکار دی چه ددغو مرتدو عناصرو په خلاف جهاد او مبارزه وکړی . د دغه حقیقت په نظر کی نیولو سره باید ووایو هغه کسان چه په او سنیو شرایطو کی د جهاد خاتمه غواړی او یائی د خاتمی لپاره تبلیغ کوی ، په هره جامه او لباس کی چه وی ، د روس ایجنټ او پرورده او د مسلمانانو ابدی دښمن دی .

دروند مسئولیت او محدود وسایل :

زما بله خبره د جهاد د سنګر قوماندانانو ته متوجه ده . د مجاهدینو قوماندانان همیشه شکایت لری چه د جهاد حقوق راته نه رسیږی . شك نشته چه د جهاد د سنګر ضروریات او اړتیاوی دومره زیاتی دی چه مونږ ئی په کامل ډول پوره کولی نشو . ځکه ، زمونږ وسایل محدود او کار را باندی دروند دی چه مکلف یو د نړۍ د یوستر مادی طاقت سره ډغره ووهو . زمونږ کوشش دادی چه خپل امکانات د جهاد په خدمت کی وقف کړو ، سره له دی هم څومره چه کار دروند او مسئولیت زیات دی هغو مره وسایل را سره نشته ، خو بیاهم مونږ د الله تعالی په کامل نصرت عقیده لرو ، که وسایل پوره وی هم جهاد به کوو او که لاس موتش وی هم جهاد ته به ادامه ورکوو . د دی مثال داسی دی لکه لمونځ ، چه که مسلمان خفه وی هم لمونځ پری فرض دی او که خوشحاله وی هم باید لمونځ وکړی . د لمانځه د ترك شرایط هم معلوم دی او د جهاد د ترك او پریښودلو شرایط هم ذکر شویدی ، د دغو شرعی شرایطو نه غیر له جهاد څخه ګوښه کیدل به د یو مؤمن لپاره سخت جرم وی . قوماندانان وروڼه باید داحیلی او بهانی جوړی نه کړی چه قرارګاه نشته ، پوره خوراك څښاك نشته او یا کارتوس نه را رسیږی .

زما توصیه دا ده : هغه شمیر مرمی چه تاسو ته درکول کیږی ، د دښمن په خلاف ئی استعمال کړئ او په پاك نیت جهاد وکړئ . د جهاد وسایل د شخصی تربګنیو او رقابتونو د ګټلو له پاره مه استعمالوئ .

که د جهاد لاری ته په پاك نیت ووځی ، په نفسی خواهشاتو پښی کیږدی ، شخصی تربګنی او قومی مخالفتونه هیرکړی ، د الله دښمن خپل دښمن وګڼی او د دوستی او دښمنی معیار او ملاك دی یوازی او یوازی دالحب لله او البغض لله شعار وی ، بیا د جګړی په ډګر کی غرور او تکبر ته په زړه

کی ځای ورنه کړی ، الله تعالی په کثرت سره یاد کړی او ددښمن سره په میړانه وجنګیږی او د دغه جنګ نه دی هدف او مرام یوازی د الله تعالی رضا ، د اسلام د دین اعتلا او د اسلامی بیرغ لوړ والی وی ، بیا به و ګوری چه ستا هره مرمی د دښمن په سر لکه د آسمان تندر را پری وځی . بیا به وګوری چه ستا د ټوپك ړزبه د دښمن لپاره د ټانك او توپ ړزوی ، بیابه ګوری چه ستا څو کسیز جهادی ګروپ به د مسلحو قواو په مقابل کی فاتح کیږی او د غنیمت په امبارونو به ئی سروی .

د وهمه خبره داده چه قوماندانان ورونه باید د ځان سره محاسبه وکړی او خپل خدای په سر شاهد کړی چه که کوم وخت دوی په قرض او پور باندی کارتوس اخستی وی ، آیا دغه قرض ورباندی پاتی دی ؟

پراخ بنسټ حکومت :

زما وروڼو ! د افغانستان د مسئالی په ارتباط یوه خبره داده چه ځینی هیوادونه په دی مذمومو هلو ځلو بوخت دی چه د جهاد جګړه باید په ټپه و دریږی او په افغانستان کی یو داسی حکومت منځ ته راشی چه دوی ورته «وسیع البنیاد حکومت» وائی او موږ ئی «غیر اسلامی حکومت» ګڼو . په نړی کی دا پروپاګند روان دی چه جلال آباد په شپړو میاشتو کی فتح نه شو او دا ددی خبری ښکاره دلیل دی چه خلك له جنګ نه ستړی شوی او غواړی چه یو سیاسی حل منځ ته راشی . ددی خبری مطلب دادی چه افغان مجاهدین چه لس کاله ئی د روس او دهغه د خلقی او پرچمی نوکرانو په خلاف جګړه وکړه او په سوونو زرګونو شهیدان ئی ورکړل اوس باید په داسی یو حکومت کی شامل شی چه خلق ، پرچم ، افغان ملت او شیعه ، سنی او نوری ډلی هم پکی ګډون لری . مجاهدین باید بیا نه خو د اسلامی حکومت نوم یاد کړی او نه د جهاد او نه د قرآن او سنت د نظام خبری وکړی . یعنی دا چه لس کلن جهاد او دهغه په ترڅ کی د شهیدانو وینی په سیند لاهو کړی .

د پراخ بنسټ حکومت د جوړیدو معنی داده چه مختلف العقیده تنظیمونه او اشخاص سره په یو حکومت کی شامل کړی ، په داسی حال کی چه زمونږ په نظر دغه کار یو ناممکن او محال کاردی . ځکه د دغسی یو حکومت له پاره چه مسلمانان ، کمونستان او نیشنلستان ، او په اصطلاح بی طرفان پکی ګډون ولری ، د خارجی او داخلی سیاست یو داسی طرح برابر ول چه ټولو ته د منلو

وړوی ، څنگه امکان لری ؟

د مثال په ډول د خارجی سیاست په برخه کی به اسلامی تنظیمونه غواړی چه د اسلامی نړی سره خپل روابط ټینگ کړی او د کمونستی هیوادونو سره تجارتی او فرهنگی اړیکی و شلوی ، خو کمونستان به ددی په خلاف د دی غوښتونکی وی چه د وارسادتړون د غړو هیوادو او په سرکی د روس سره حسنه روابط ولری . د داخلی سیاست په برخه کی به مسلمانان غواړی چه د مملکت نظام باید اسلامی او د قرآن او سنت په بنیاد ولاړوی ، په داسی حال کی چه کمونستان او بی طرفان به ئی بل خوا اړوی .

بل سوال دا دی چه د مملکت مشر به څوك وی ؟ مسلمانان خو د یو واقعی مسلمان او مجاهدنه غیر بل چا ته د بیعت لاس نه ورکوی ، په داسی حال کی چه کمونستان او نیشنلستان بیا د اسلامی زعامت منلو ته تیار نه دی .

زه به تاسو ته د اسلامی تاریخ یوه واقعه بیان کړم . کله چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم مدینی ته راغی ، د یهود و سره ئی د مشترکی دفاع یو تړون جوړ کړ ، خو د یهودو جامعه جدا وه او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او اصحابو کرامو جامعه جدا وه . داسی نه وه چه یو قانون به جوړ شو هغه به په یهودی هم تطبیق کیده او په صحابی هم . د مسلمانانو د پاره جدا قانون موجود ؤ او د یهودو د پاره جدا ـ دلته جدا حکمفرما ؤ او هلته جدا . البته د خارجی یرغل نه د دفاع لپاره مشترك پلان جوړیده او قیادت پخپله د محمد صلی الله علیه وسلم په غاړه ؤ .

په اصل کی د پراخ بنسټ حکومت جوړیدل یوازی د کمونستانو او کافرانو د سیاسی حیثیت د په رسمیت پیژندلو لپاره دی او ځینی هیوادونه غواړی چه په افغانستان کی باید کمونست بانډونه ومنل شی . خو د حیرانتیا خبره داده چه په یوکلی او یا یو ښار کی د مسلمان او کافر لپاره یو داسی قانون جوړول چه دواړوخو او ته د منلو وړوی ، څنگه ممکن کیدای شی ؟

په هر صورت هغه خلك چه د وسیع البنیاد حکومت خوبونه وینی او په دی خوش باوری کی پراته دی چه دافغانستان د مسلمانانو جهادی جذبه به کمزوری کړی ، په سخته اشتباه کی پری وتی دی . نه خو مجاهدین له جگړی خسته شویدی او نه ئی داسلامی نظام د تطبیق له پاره په عزم او تصمیم کی څه خلل واقع شویدی . د

افغانستان مسلمان ولس به د کفر او شرك د ټولو جرړو د ویستلو او په هیواد کی د قرآن او سنت په بنیاد د یو اسلامی نظام د نفاذ تر وخته پوری خپل برحق مقدس جهاد ته دوام ورکړی او په دی لار کی به د هیڅ ډول مالی او ځانی قربانی نه ځان و نه ژغوری .

هغه کسان چه د سولی او امنیت چغی ناری وهی او غواړی چه جګړه سړه شی او یو غیر اسلامی حکومت منځته راشی ، په حقیقت کی د اسلام دښمنان دی او له نیکه مرغه زمونږ مجاهد ملت دغه ډول عناصر ډیر ښه پیژنی او په زهرجنو تبلیغاتو ئی نه غولیږی . د افغانستان مجاهد ملت د جهاد د هماغی لومړی ورځی څخه د خپل خدای سره دا تعهد کړی چه غیر اسلامی حکومت او غیر اسلامی زعامت ته به نه تابع کیږی ، بلکه جهاد به ورسره کوی .

واحد قیادت :

زما ورونو . کوم مشکلات چه نن سبا ورسره مونږ لاس اوګریوان یو ، د ځینو خلکو په خیال او زعم نه حل کیدونکی مشکلات دی لکه په افغانستان کی د یو واحد قیادت تشکیل چه باید ټول جهادی اسلامی قوتونه ورباندی اتفاق وکړی او بین التنظیمی اختلافات او رسه کشی له منځه لاړی شی . خو که مونږ خپل مشکلات او مسایل اسلامی عدالت ته وړاندی کړو او په هغه فیصله باندی چه د اسلامی عدالت اومحکمی له خوا صادریږی خوښ او راضی و اوسو دغه او دغسی ټول مسایل او مشکلات به ډیر زر حل او فصل شی او که نه دا چه یو ووائی زه پروفیسر یم او قیادت زما حق دی ، بل وائی زه انجینریم زه د قیادت مستحق یم ، بل ادعا وکړی چه زه مؤسس یم قیادت باید زما و-منل شی ، نو حاشا وکلا چه دا وړی شړی شی . خو بهتره داده چه ځانځانی پریږدو او مسایل اسلامی عدالت ته وړاندی کړو او هغی فیصلی ته غاړه کښیږدو چه په قرآن او سنت د پوهو علماؤ له خوا صادریږی .

خو دا چه د مشکلاتو د حل لپاره په اسلام کی د موجود وطریقو نه کار نه اخستل کیږی او یا ورته څوك غاړه نه ږدی ، داد اسلام نقص نه دی او نه داسی کوم مشکل دی چه د اسلام نه ئی نشأت کړی ، بلکه په قرآن مبارك کی د هغو خلکو په باب چه د اسلام حکم نه منی او یا ورته غاړه نه ږدی او د تفرقی او جدائی اور تازه کوی ، صریح احکام موجود دی . قرآن عظیم الشان فرمائی :

«وان طائفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحو ابینهما فان بغت احدیٰهما علی الاخری

فقاتلوا التی تبغی حتی تفئ الی امرالله .

(الحجرات / ۹)

ترجمه : او که چیری دوه ډلی د مؤمنانو سره په جنګ او جګړه کښی ولوېږی (په خپلو منځو کښی) پس روغه صلح وکړئ (ای نورو مؤمنانو!) په منځ دهغو دواړو (جنګ کوونکو کښی په نصیحت سره او په بلنی سره حکم د الله او رسول الله ته) پس که ظلم او تیری والی وکړ یوی له دغو دواړو په هغی بلی ډلی باندی (یعنی چه صلح قبوله نکړی او حکم د الله او رسول الله ته راضی نه شی) پس وژنئ او جنګ کوئ (تاسو ټول ای مؤمنانو) له هغی (ډلی) سره چه ظلم، تجاوز او زیادت کوی (پرهغی بلی ډلی باندی) ترهغه پوری چه بیرته وګرځی امر او حکم د الله تعالی ته (اوغاړه ورته کیږدی).

تنظیمی ارتباطات :

مجاهدینو ورونو. تاسو د مختلفو تنظیمونو سره اړیکی لری. دا تنظیمی تعلقات او رابطی غالباً په اسلامی فکر او تصور ندی ولاړی. تاسو ښه پوهیږئ چه دا په مادی بنسټ ولاړ ارتباطات دی.

که څوک جهاد کوی او کنه، خو د یو او بل تنظیم سره د خپلو مادی ګټو د یوی ذریعی په حیث ارتباط پیداکوی. زما دعا داده چه خداناخواسته ستاسو ترمنځ دغه تنظیمی اختلاف نه خو ستاسو په اجتماعی ژوند کی د خپل منځی اختلاف او دښمنی اور بل کړی او نه درته د آخرت د عذاب دروازه خلاصه کړی، نو ښه خبره داده چه په تنظیمی روابطو کی د زیات احتیاط نه کار واخلی.

اداری سیستم :

د کونړ د ولایت د آزادی نه وروسته چه د الله تعالی په فضل او نصرت د کفارو د ناپاکو قدمونو څخه پاك شو، مونږ خپلو مجاهدینو ورونو ته دعوت ورکړ چه دلته باید داداری سیستم له پاره د اسلامی احکامو مطابق عمل وشی او ډلی ټپلی په نظر کی و نه نیول شی او یا که غربی سیستم مو منظور وی، باید داداری کنترول لپاره انتخابات صورت و نیسی. موږ خو دا وایو چه مونږ مسلمانان یو، په توحید عقیده لرو او قرآن او سنت خپل منهج او دلاری مشال ګڼو. باید اسلامی لاره خپله کړو او په هغه طریقه عمل وکړو چه اسلام مونږ ته داداری سیستم د قایمولو لپاره راښودلی ده. خو دا چه اوس بعضی ورونه، نه له ډلو تیریږی، نه انتخاباتو ته غاړه ږدی او نه داسلامی اصولو

مطابق اداری سیستم جوړولو ته تیاردی ، نو زمونږ مسئولیت نه دی ، بلکه ذمه واری د هغو وروڼو په غاړه ده چه د دغو دریو طریقو څخه یوه هم نه منی .

د جهاد حق

مجاهدینو وروڼو . لکه څنګه چه همیشه وایم او څولحظی وړاندی می هم وویل چه مونږ جهاد د الهی احکامو سره سم پیل کړیدی ، نو ضروری خبره داده چه باید د جهاد په هر قدم کی الهی احکام هم په نظر کی ونیسو او د جهاد فریضه په هغه طریقه اداء کړو چه د جهاد حق وی څکه چه الله فرمائی : و جاهد وافی الله حق جهاده .

دا د الله تعالی نصرت دی چه هره ورځ نوی نوی بریالیتوبونه د مجاهدینو په برخه کیږی ، مجاهدین هره ورځ وړاندی ځی او نوی سیمی ئی تر تصرف لاندی راځی ، د دشمن قواوی شکست خوری ، تښتی او سیمه د مجاهدینو لاسته ورځی ، نو مجاهدینو ته پکارده چه د دغو سیمو له خلکو سره د قرآن او سنت په اصولو معامله وکړی او د حقوق الله دادا ترڅنګ حقوق العبادهم په کامل ډول مراعات کړی چه د انسان د مال ، عزت او ناموس د حفاظت او حراست په باب وربانذی داسلام له خوا مامور شوی دی . داسی نه چه د مجاهد په نوم ټوپك ته لاس کړی او ووائی چه د خدای د پاره جګړه کوم ، خو بیاځان یو بی تاجه بادشاه تصور کړی چه د هیڅ ډول قید او بند او حدودو پروانه ساتی . دغه کار د جهاد سره ستر خیانت دی

ولی جهاد؟

مجاهده وروره ! تاټوپك ته لاس کړی د دی له پاره چه مظلوم مسلمانان د کفارو او مشرکینو له عذاب اوعتاب نه خلاص کړی ،

تاټوپك په اوږه ایښی ددی لپاره چه د دین او وطن دښمنان له کلو او ښارونو و باسی ،

تاټوپك په اوږه ایښی د دی له پاره چه له دغه کلی او ښار څخه د طاغوت قواوی و باسی او د الله نظام وربانذی حاکم کړی ،

مجاهده ! ته د الله سپاهی ئی ـ ته د خلکو د ناموس ، عزت او مال مدافع ئی ، ته باید د ظلم او تجاوز مخه ونیسی ، نه دا چه طاغوتی لښکرو ته شکست ورکړی او بیا پخپله د ښار او کلی په خلکو بانذی د خپل نفسی طاغوت راج او باج قایم کړی .

مجاهده ـ په هر قدم کی د الله تعالی ټاکلی حدود په نظر کی ونیسه ، او په دی ایمان ولره چه که ته ددغو حدودونه تجاوز وکړی بیانو ستا او د بیګانه ؤ ترمنځ هیڅ فرق نشته .

مجاهده ـ ته په دی ځمکه کی د الله له طرفه خلیفه ئی ـ ته باید د الله تعالی احکام په صداقت اوایمانداری تطبیق کړی ـ ته باید دالله تعالی په دربار کی د شکرانی سجده کیږدی چه ستا په ناتوانو لاسونو ئی د روس په شان یو مادی طاغوتی طاقت ته ماتی ورکړه ـ ته باید د دغی فتحی افتخار په ځان پوری منحصر نه کړی او مغرور او متکبر نشی ، بلکه ووائی چه : و ماالنصر الامن عندالله امدادندی مگر د الله له طرفه دی . که په خپلو فتحو او بریالیتوبونو مغرور شی او که روسانو او پرچمیانو اوخلقیانو ته شکست ورکول یوازی د خپلو مټوپه زور اوقوت پوری مربوط کړی او په آزادو شویو سیمو کی د چاد مال ، عزت ، ناموس ، او نفس پرواونه ساتی ، نو الله تعالی ته داهیڅ گرانه او مشکله نه ده چه شکست خوړلی پرچمیان او خلقیان درباندی بیا مسلط کړی .

څو کاله وړاندی تاریخ ته نظر وکړه : د ظاهر شاه د حکومت په زمانه کی اجتماعی کفر موجود ؤ ، خو مونږ انزوا او بی تفاوتی اختیار کړی وه او د غفلت په خوب پری وتی وو ، د الله احکام موشاته غورزولی وو ـ نتیجه دا شوه چه کفر د پخوانه لړشان زیات راښکاره شو ، د داؤد وخت راورسید ، مرتد او لادینی عناصر د اقتدار په کرسو کښیناستل ، خو مونږ بیاهم خپل مسئولیت درك نه کړ ، نو الله تعالی را باندی خلقیان او پرچمیان مسلط کړل چه د هیچا کور ، مال او عزت ئی له شر نه خلاص نه شو . خو کله چه مونږ د الله په نوم را پورته شو او په تش لاس د اسلام د کلمی د اعتلا لپاره کفن به سر راووتو ، نو تاسو ولید چه الله تعالی زمونږ سره بی مثاله مرسته او نصرت وکړ او زمونږ رعب ئی زمونږ په هغو دښمنانو وغورزاوه چه په شمیر ډیر او د ذروی وسلو له هیبت څخه ئی د امریکا سپینه ماڼی په لرزان ده

متهمین شرعی محکموته و سپاری :

اوس هره ورځ یوه نه ، یوه سیمه د خلقیانو او پرچمیانو له ناپاکو قدمونو څخه پاکیږی او مجاهدین ئی د چارو کنترول په لاس کی اخلی ، نو د ټولو مجاهدینو او قوماندانانو نه زما هیله داده چه د خلکو سره په اسلامی اخلاقو چال چلند وکړی ، په هر چا باندی په پټو ستر گو د خلقی او جاسوس ټاپی و نه لگوی او د جهاد په نوم د خپلو شخصی دښمنیو بدل وانه خلی ، په هرځای کی علماء موجود دی ، شرعی محکمی شته ، متهم کسان باید اسلامی محکمی ته

وړاندې شي او د اسلامي اصولو مطابق ورسره رفتار و شي ـ هيڅ مجاهد او قوماندان نشي کولی چه په خود سرانه ډول او د شرعي محکمې له حکم نه بغير څوك و وژني او يائې مال تالاکړي .

بله دا چه په کلو کې ډير خلك داسې شته چه په جهاد کې ئې برخه نده اخستې . کله چه مجاهدين دغه کلي ونيسي ، نو دلسوشلو کالو دښمنان او رقيبان په يو او بل نوم تورن کوي او تکليف ورته رسوي چه دا شرعاً جائز کار نه دی ـ که دعوه ورسره لري ، په خودسرانه ډول بايد عمل و نه کړي ، بلکه په شرعي محکمه کې ورباندې د علماؤ هيئات ته دعوه وړاندې کړه .

عامه معافي :

مونږ هغو خلکو ته چه لاسونه ئې د مسلمانانو په وينو لړلي نه دي ، معافي اعلان کړې ده چه بايد ژر ترژره د جهاد او هجرت په صف کې و دريږي . نو کله چه د معافي اعلان و شي او يو سړی د جهاد صف ته راشي او په اخلاص توبه و باسي ، په دنيا کې معاف دی او که توبه ئې داخلاص نه وه ، هر عمل به ئې په خپله تاسو ته گواهي درکړي چه دی منافق دی چه بيا به ورسره هم يوازې شرعي محکمه هغه فيصله کوي چه د يو منافق په باب په اسلامي قانون کې موجوده ده .

خودسرانه فيصلې :

زما هيله داده چه هيڅوك د پخوانيو اعمالو په سرمه زغلوئ او مه ئې په تکليفوئ ، ځکه چه په دې کار د جهاد صف بدناميږي او تشتت او انارشي په کې منځته راځي . هر څوك به د خپل دښمن ، د خپل تربور او د خپل مخالف لپاره حيله او دسيسه برابر وي ، وژني به ئې او بيا به وروسته وربانديې گواهي ورکوي چه د ده پخواني اعمال خو غير اسلامي وو ، ځکه مې وواژه .

د عدالت او انصاف تامين :

چاته د مرگ سزاء اوروِل يوازې د اسلامي شرعي محکمې حق دی او بس . ځکه که د محکمې د حکم نه غير هر سړی ټوپك ته لاس کړي او هر څوك چه ئې زړه و غواړي چڼ وڼ کړي نو نه په سيمه کې د عدالت او انصاف څه اثر پاتې کيږي او نه به مجاهدين د آزادو سيموامنيت اعاده کړي شي . دا ستاسو وظيفه ده چه په خپل ځان کې اسلامي اخلاق پيدا کړي او بيا د دغو اخلاقو د عملي ثبوت د وړاندې کولو په ترځ کې خلك د الله تعالی دين ته راوبولي ، اسلامي اخلاق او آداب خلکو ته ورزده کړي ،

جوماتو نه جوړکړی ، دینی مراکز تأسیس کړی او خپل مسئولیت د اسلام د مقدس دین په وړاندی سرته ورسوی . که تاسو د الله د دین په لاره کی په صداقت خدمت وکړ ـ الله تعالی به مومرسته او نصرت وکړی او که د مسلمانی او دیانت په جامه کی مو د خپلو نفسی خواهشاتو د پوره کولو له لاری د اسلام د تخریب کوشش وکړ ، نو پوه شی چه الله تعالی په ټولو پټو او ښکاره اعمالو باندی علیم او دانادی او هغه ذات چه نن ئی د کرملین قصر نشینان د افغانستان د بی وزلی ملت په لاس وهلی ـ ټکولی او شړلی دی ، نو په دی هم ډیر قادر دی چه زمونږ ملت د گمراهی او انحراف په صورت کښی دهستی له صفحی لیری کړی او یاوربانادی کومه ذلیله ډله مسلطه کړی چه کورونه ورله تالاشی کوی ، له پټو ځایونو به ئی را باسی او دعذاب او عتاب په منګولو به ئی وهی .

و ماذلك على الله بعزيز .

د مقاومت نتیجه :

محترمو وروڼو ، شکست خوړلو او شرمیدلو خلقیانو په دی وروستیو وختو کی یو پوستر چاپ کړی او په ډیره بی حیائی لیکی چه د کامی او خیوی په شاوخوا سیمو کی به د مخالفو وسله والو ډلو د مقاومت نتیجه مرگ وی .

مونږ وایو ستاسو روسی باداران له افغانستان څخه د تیښتی وروسته په دی حقیقت پوه شول چه د مقاومت نتیجه مرگ دی . د راتگ په وخت کی روسانو فکر کاوه چه روسی توپونه ، جنگی الوتکی او زغره لرونکی گاډی به د دوی د برلاسی وسیله شی . خو داتو کالو جگړی وروسته چی ئی د شل دیرش زرو روسی مړو تابوتونه د مسکو په هوائی ډگر کی ښکته کړی شول او په زرگونو معیوبان د روسی جامعی داوړوبارشول او د افغانستان غر او سمه د روسانو په وینو ولړل شوه ، نو دی حقیقت ته ئی سرټیټ کړ چه دافغانانو سره د جگړی کولو او د دوی په وړاندی د مقاومت کولو نتیجه بالاخره مرگ دی او باید له دی خاوری پښی سپکی کړو .

خلقیانو او پرچمیانو ته هم د تیر ولسوکالو په جگړه کی دا حقیقت ثابت شوی چه د مجاهدینو په وړاندی مقاومت پخپله ، خپل ځان د هلاکت کندی ته غورزول دی . ځکه ، روسی قواو د خپل پوځی سازوسامان سره و نه شو کولی چه د مجاهدینو طاقت او- به کړی ، څه جنگی الوتکی وی چه کارتری وانه خستل شو ، څه ناپالم بمونه وو چه د

مجاهدینو په سنگرونو و نه وریدل ، څه ټانکونه او زرهپوشونه وو چه استعمال نه شول او څه مدرن او پیشرفته راکټونه وو چه په جهادی سنگرونو و نه توغول شول ، مگر دا هرڅه بی اثره شول او د افغانستان د مسلمانانو جهادی جذبه ئی کمزوری قدری هم نه کړه او ربښتیاهم چه د مجاهدینو سره د ېغری وهلو نتیجه مرگ دی .

زمونږ دلس کلن جهاد د جگړی په ډگر کی چه د روسانو او د دوی د خلقی او پرچمی گوډاگیانو ډول ډول دسیسی او توطیی پکی رسوا او د شکست سره مخامخ شوی او ټولی مدرنی وسلی ئی ناکاره ثابتی شوی ، د الله تعالی دا وعده ډیره ښه ربښتونی شوه چه : ان الله لایهدی کیدالخائنین

د شکست او رسوائی جبران :

